PROPERTY OF ACKU

د گریزو دقوم مشرانو له الحاج مولانا جلال الدین حقاني سره ملاقات وکړ ص (٤)

دبغداد رژیم په مقابل کي دکویت دخلکو وسله وال مقاومت پیل شویدي ص (٥)

جهاد هنداره

د تأسیس کال ١٣٦٩ مؤسس الحاج مولانا جلال الدین حقانی

لومړی کال، دویمه گڼه ، د ١٣٦٩ هـ ش د سنبلې (٢٥)

مشت ملیشاو یخن رژیم ص (٢)

له نیول شوی کویت نه دراغلي افغاني انجنیر تأثرات ص (٢)

بحران خلیج فارس زنگ خطر براي امت اسلامي ص (٥)

نجیب ته دمرستی پر سر دروسیی په سیاسی بیرو کی اختلافات رامنځ ته شویدی

افغان آژانس د سپتمبر ٦ :

مسکو ته د نجیب‌په رابطه په جپروسویو خبرونو کی ویل شویدي‌چې د روسیی په سیاسی بیرو کی نجیب ته د مرستی د دوام په اړه سخت اختلافات رامنځ ته شویدی او دسیاسی بیرو ګڼو غړو د مرستی په دوام اسقادوړد کړی .

په (٦) مخ کی

الحاج مولاناجلال‌الدین حقانی د"جهاد هنداره" له خبریال سره په مرکه کې:

درکود له روان حالت څخه دعبوري حکومت ایستل دیر ښه او پرځاي قدم دي ، په اوسني وخت کي دیو بیا وري عبوري حکومت موجودیت او داخل ته دهغه انتقال ضروري کاردی.

دموجوده عبوري حکومت دجوړیدو پر وخت یوه اشتباه شوي وه اوهغه داچي کله دشورا له خواعبوري حکومت انتخاب شو ، شورا سملاسي منحل شوه ، خوداځل چي کومه شورا حکومت تاکي باید هغه شورا په ځاي پاتي شي او تاکل شوي عبوري حکومت هغه ته مسوول او ورڅخه داعتماد رایه واخلي او دا شورا دیو مقتدر ارګان په توګه پاتي شي.

په (٣) مخ کی

اوس چي دکوم عبوري حکومت دجوړیدو اوازي خبري اوخبري اتري پري رواني دي ، زما په عقیده دا دعبوري حکومت د ټاکلو سمه طریقه نه ده اوددي په نتیجه کي چي کوم حکومت مینځته ته راځي هغه به په تنظیمونو پوري منحصر پاتي شي .

دخوست دهوائي ډگر درن‌ وي کربنه ویجاړه کړای شوه

خوست دسنبلی ١٥:

د رارسیدلی رپوټ له مخی د خوست د ولسوالۍ د چاونۍ لوید. یځ خواته د باغ صحراپه سیمه کی د الوتکو نوی جوړه شوی، رنوی خط د مجاهدینو د عملیاتو په ترڅ کی له کاره وغورځیده.

دپکتیا په ولایت کی د مجاهدینو د یوځی خبرځایونو د خبریال په قول د سلمان فارسی دغه مجاهدینو هغه وخت پر هوائي ډگر برید وکړ ، چی هلته د کابل ،

باقی په (٥) مخ

په خوست کی په (٤٥) ورځوکی (٤٢) الوتکي له منځه وړل شویدي

دښارپه پنځه کیلومتری کی ټولی پوستی فتحه شوی دی

شلتایز یو امریکایي ژورنالست دی چی ١٢ ځلی یی افغانستان ته سفر کړی او د یوه معتبر ورځپاڼو او خبری شبکو له پاره یې رپوټونه برابر کړیدی.

شلتایز پدی وروستیو ورځونوکی، افغانستان ته سفر کړی دی پدغه سفر کی یی د خوست د جګړو اوحالاتو په ارتباط یو رپوټ برابر کړی او له مولوی جلال‌الدین حقانی سره یی مرکه کړی‌ـ شلتایز پخپل رپوټ کی لیکی: د مولوی جلال‌الدین ـ حقانی مجاهدین ډیر ښه تنظیم او ترتیب لری مجاهدینو په بشپړه توګه دخوست ښار محاصر ه کړي دي.

شلتایز زیاتوي : مجاهدینو په خوست کي د کابل رژیم (٤٢) الوتکي چی، دخوست چوڼی ته یی نظامی اوغذایی، مواد رسول په راکټونو اوتوپونوویشتلی او له منځه وړي دي .

مجاهدینو دغه شمیر الوتکی د ٤٥ ورځو په موده کی له منځه وړي دي او د خوست ښار په پنځه کیلومتریه کی یی

باقی په (٦) مخ

درآسیاي میانه براي نخستین باریک حزب اسلامي تأسیس شد

مسلمانان مبارز جمهوری های آسیای میانه روسیه تشکیل یك، جزب اسلامی را برای تمام‌مسلمانان جمهوریهای آسیایي روسیه اعلام نمودند.

داداخان رهبر بخش ازبکستان این جنبش اظهار داشته است که ما خواهان آزادی واسلام‌میباشیم

موصوف ضمن مصاحبه باخبرنگاران پیرامون برنامه حزبش گفته است ستراتیژی ماانیست که ابتداتمامی مسلمانان رامتحد وبه

درمخ (٦)

له کویټ څخه ٨٠٠ عراقی پوځیان سعودی عربستان ته تښتیدلی دی

پرکویټ له تیری وروسته ٨٠٠ عراقی پوځیان سعودی عربستان ته تښتیدلی دی .

د قطر خبری اژانس ددغه خبر د خپرولو په ترڅ کی ویلی، دی چی عراقی واکمنو کله چی پر کویټ حمله کوله پوځیان یی دیوه پوځی تمرین په پلمه هلته سوق کړی و، ځکه اوس چی کله هم عراقی پوځیان وخت او فرصت تر، لاسه کوی ځانونه سعودی ته رسوی.

سرمقاله

اوازي ـ څرګندونې اوواقعیتونه

د خپرو شویو خبرونو له مخی ویل کیږی چې د مجاهدینو مشران د خپل منځی یوالی په یوه نوی طرحه متفق شویدی که څه هم دغه خبر تر اوسه په رسمی توګه د مجاهدینو د کوم مسئوول مقام او ارګان له خوا نه دی تائید شوی او نه کومه رسمی اعلامیه خپره شویده خو د پاکستان معتبرو خپرونو پدی رابطه ګرم او تاوده خبرونه خپاره کړیدي.

په هغو خبرونو کی چی د جنګ او نوایی وقت ورځپانو خپاره کړی ویل شویدی چی د استاد سیاف، انجینر حکمتیار ،مولوی محمدنبی محمدی ،استادربانی او د مولوی محمد یونس خالص د نمایندو له خوا دري پړاویز د خبری پای ته رسیدلی او د یوی لویې شورا ، په جوړیدو یی اتفاق کړی دغه شورا ته به عبوری‌حکومت، هم مسئول وی او د مجاهدینو د ربړو او مسایلو په اړه به پریکړی کوی .

ددغه خبرونو د خپریدو سره یوځل بیا ګڼی پوښتنی راپیدا شویدی په تیره په دغو خبروکی د پیرسیداحمد ګیلانی او حضرت صاحب صبغت الله مجددی غیابت دا شکونه او اندیښنی را پیداکړیدی چی بیا هم نوی طرحه

باقی په (٤) مخ

دمجاهدینو مشران دیوې قضایی لویې شورا په جوړیدو متفق شویدی

په خپروشویو خبرونو کی ویل شویدی د مجاهدینو د ربړو ،اختلافاتو، او دی ته ورته معاملو د حل اوفصل له پاره د مجاهدینو مشران دیوی ځواکمنی قضایی شورا په جوړیدو متفق شویدی د مجاهدینو عبوري، حکومت به هم دغه شورا ته مسئول وی.

په خبرونو کی ویل شویدی چی د مولوی محمدیونس خالص‌دنمایندو ، استادسیاف ،انجینر ګلبدین‌حکمتیار، مولوی محمد نبی، استادربانی‌ترمنځ، دری پړاویزه خبری شویدی ددوی خبری په یوه دوستانه اودوروولی په فضاکی بښه نیولی ده او د داسی یوی شورا په جوړیدو متفق شویدی.

په روسیه‌کی پوځ حکومت نسکوروی

ماسکو د سپتمبر١٤:

د روسیی یوه معتبر اخباړویلی: په روسیه کی چی اقتصادی ستونزی څومره زیاتیږی دهغی له وجی پوځ دی ته مجبوریږی چی حکومت رانسکورکړی .

اخبارزیاته کړی:ددی ممکن پوځی

باقی په (٦) مخ

دتحریك انصار المسلمین هیئت له الحاج مولانا جلال الدین حقاني سره وکتل

له میرانشاه څخه په یو را رسیدلی خبر کی ویل شوی چی الحاج مولانا جلال‌ـ الدین حقانی د(تحریك انصارالمسلمین) دتنظیم نایب صدر داکتر عجازالحق په مشری د هغه تنظیم یو

باقی په(٦) مخ

دافغانستان د قضیي دحل یوازینی لار دوسله وال جهاد ادامه ده

الحاج مولانا جلال الدین حقاني

مشت ملیشاویخن رژیم

ملیشای مزدور رژیم کابل اوامر ودساتیر اراکین رژیم را قبول ندارند

افراد ملیشای مزدور رژیم با مال و دارایی ، عزت وناموس شهریان کابل تجاوز میکند

حکومت کابل اخیرا " اعلام ، نمود کد تمام قرارگاهاوافراد ملیشای مزدور خود را از شهر کابل بیرون رانده است وآنهای را کد هنوز در داخل شهر باحمل سلاح مصروف آزار واذیت مردم و، چور وچپاول اموال و دارایی مردم اند گویاگرفتارنموده است.

این چندمین بار است کد رژیم ملحد در اثر انزجار شدید مردم از اعمال و کردار ناجایز ملیشای مزدور مجبور میشود تااین جانیان و رهزنان را کد بنام ملیشای هراتی ،عصمت مسلم ویا گلیم جمع و غیره از کوسها - سلاح اخذ نموده علیه مجاهدین و بالاخره علیه مردم ملکی سلاح می کشند از شهر بیرون مینماید.

بخاطر شناخت چهره ناپاك، و کثیف این ملیشای مزدور و جیره خور کمونستها لازم می افتد تااوراق سیاه کاروایی هایشان را ورقزده از سیاهکاری شان بنویسیم.

رژیم کمونست کابل هنگامیکد در جبهد نظامی ناتوانی خود را در برابر مورال و نیروی عالی مجاهدین، احساس کرد بدستور روسها بد نیرنگ دیگری دست زد تابتواند چنان وانمود کند کد گویا مردم و اهالی علید مجاهدین می جنگند.

روسها از طریق دستگاد جاسوسی رژیم (خاد) در اوایل سالهای شصت باتقسیم پول گزاف بد استخدام اجیران درمیان مردم پرداختندو از، طریق خرید افراد سست ایمان وپول دوست قوای مزدور را بخاطری ایجاد نمود تادرمحلات پیش از آنکد قوای، نظامی رژیم واردگردد باید ملیشای مزدور و خریده شده مذکور در مقابل مجاهدین قرار گیرد بهمین مناسبت (خاد) ضمن براد انداختن فعالیت وسیع در نقاط مختلف کشور تعدادی را بادادن پول و با وعده هاو عیدها اغوا وبد صف مزدوران ملیشایی حود قرار، داد .از این گروه یکعده بادرك نیات ناپاك دولت از صف آنهابریده بد مجاهدین پیوستند اما تعداددیگر کد منافع شان توسط رژیم ملحد تامین می گردید بد جهت اجیر دولت بد نوکری و چاکري رژیم، کمونست ادامد داوند.

اگر بد شخصیت چنین اشخاص دقت شود بصورت عموم اینها کسانی اند کد یا از اول غلام کمونست ها بودند ویا انها ی اند که مدتی در صف جهاد بوده بد امر پاك جهاد ویا بد مردم مسلمان افغانستان خیانت نابخشودنی نمودهازمجاهدین فرار وبد رژیم کمونستی پناد بردهاند. لذا ملیشای رژیم مرکب ازتمام جانیان و خاینان دین و مردم بوده و رژیم کمونستی میتواند برای شان پناد گاد باشدزیرا در نهاد کمونست ها خیانت بد دین وطن و مرد م نهفتد است.

رژیم کمونست کابل بخاطرطولانی تر نمودن عمر ننگین و شرم آور خویش بد حمایت ملیشای مزدور ضرورت داشتد و آنهارا بادادن سلاح، پول فراوان اموال وامتعد و بالاخرد بادادن آزادی برای چوروچپاول مالو دارایی مردم،راضی نگهمیدارد.

ملیشای مزدور رژیم از همانجاکد از اساس‌خاین وناپاك است بانفوذ بد داخل شهر ها و ایجاد پوستد در شهراهها بد چوروچپاول منازل و- دارایی شخصی مردم و عامد،آزار و اذیت مردم ملکی می پردازندجنانچد مردمما بد هزاران قصد و حکایت، از جنایات بسیار زیاد و بسیارخایناند این گروپها را در شهر اهاشنیدد ویا خود شان شاهد صحند بودد اند.

مردم شهرکابل و سایر ولایت کشور از جنایات وحشیاند حود عصمت مسلم و گروپ ملیشای اوقوماندانان ملیشایی - هرات چون سیداحمد ،داؤد ،وغیرهدو افرادشان و بالاخرد ملیشای رشید- دوستم که بنام گلیم جمع نفرت مردم افغانستان را کمایی کرودد اند بیادارند.

هر یك از قوماندانان خاین ملیشای رژیم و افراد وحشی‌انها در تمام شهر های کد قرارگاد داشتند اند بشمول شهر کابل شبها بخاند های مردم افتادد مال و دارایی را بد تاراج بردد بد عزت و ناموس‌مردم دست درازیکرودد اند.

افساند های جنایات عصمت مسلم ، وباندش ،قوماندانان ملیشای هرات و افرادرشید دوستم را مردم بد نفرت و بحیث یکی از بدبختی ها روز گار خویش ذکر می کنند. رهبران و افراد این ملیشا در شهر کابل در طی جنایات و خیانت های خویش آنقدر- مقتدر می شوندکد بر سرموضوعات کوچك علید یکدیگر سلاح کشیدد بر علاود همدیگر تعدادی ازمردم‌بیچارد و بیگناد را نیزقربانی اعمال وحشیاند خویش می سازند و گاهی هم بر، اثر رقابت بر ناموس کسی بر خاند ها و قرار گاهایکدیگر باراکت و سلاح ثقیل حملد می برند.

چنانچد در همین سلسلد یکبار قوای پولیس وزارت داخلد رژیم خاند عصمت مسلم را در وزیراکبرخان حر محاصرد گرفت کد موصوف از داخل بد قوای رژیم بد فیر پرداخت کد در نتیجد زدو خورد شدید رخدادد، تعدادی هلاك و تعدادی نیز مجروح و خساراتی ببارآمد.

باری نیز ملیشای رشید دوستم، در هنگام چور سرای شهزادهکابل‌درروز روشن قوماندان حوزد اول امنیتی پولیس را بد قتل رسانید کد این موضوع نیز موجب برخورد مسلحاند ملیشای مذکور و قوای رژیم کابل گردید.

این فقرات صرف نمونه از مزاحمت های است کد ملیشای مزدور رژیم خلق می کنند و اگر جنایات این ملیشا را علید مردم و اهالی ملکی بر شماریم کتاب ضخیمی ایجادخواهد شد .اطلاعات واصلد از کابل حاکیست

کد رقابت ملیشای مذکور در چور- وچپاول و اذیت مردم ساکن شهربد اوج خود رسیدد است همچنان دراثر برخورد میان افراد ملیشای مذکور قوماندان یکی از باندهای ملیشای چپاولگر بنام داؤدکشتد شدد است کد این اوج وشدت قدرت ملیشایمزدور رژیم در برابر رژیم و خطر فزاینده مالی و جانی این ملیشا بد، مردم بی دفاع ملکی را در ساحد تحت اشغال رژیم نشان میدهد.

نطاق رژیم ملحد در تبصرد، بر خروج ملیشای اجیر ضمن ابراز شک بر عملی شدن دستوررژیم در زمیند گفتد است : اگر یك فیصد این دستور عملی گرددنود در صد پرابلم امنیتی شهر بر طرف خواهد شد. این گفتد نطاق رژیم بدین مفهوم است کد حتی یك فیصداین ملیشا منبع صد فیصد پرابلم امنیتی بد مردم اند.

همچنان از بیانید نطاق رژیم از یکطرف ضعف رژیم ملحد دربرابر ملیشای مزدور و از طرف دیگر درجد فساد این ملیشاکد از پرورددهای رژیم است بد اهالی واضحا" اشکار میگردد.

> ملیشای رژیم مرکب از جانیان و خاینان بدین و مردم بودد و رژیم کمونستی کابل دیتواند برای شان پناد گاد باشد زیرا در نهاد کمونستها خیانت بد دین وطن‌ومردم‌نهفتداست

عراقی یرغلگرو د کویت ثروتونه لوټ، دوکانونه د اور خوراک اوو دانی ویجاړی کړی.

دوی ونه کړای شول چی یو کویتی هم په گوډاگی حکومت کی برخی اخیستلو ته حاضر کړی.

په کویت کښی دشل زرو تنو شا وخوا افغانان اوسیدل وو.

عراقی یرغلگرو د کویت د سهار په څره کښی داسی وخت چی خلک لاپه خوب ویده وو، لاندی کړ دوی د شپی په دوو بجو راخوځیدلی وو او دسهار په څلور نیمو بجو د کویت ښارته راورسیدل. په لاره کی د دفاع وزارت تر څو محدود و متقابله ډزو وروسته تسلیم شو. د کویت د باچا او کورنی ترتښتیدو وروسته په شاهی مانۍ کښی پرتو عسکرو په نره مقابله وکړه چی اته سوه تنه پکښی شهیدان شول، په دی کسانو کښی دباچا ورور « فهد الاحمد الجابر الصباح» چی د کویټ د سپورت رئیس او دآسیایی او لمپیك مرستیال ؤ، هم شهید شو ده ټینته نامردی بللی وه او داوطلبانه د وطن ددفاع له پاره پاتی شوی ؤ.

پورتنی مطالب له اشغالی کویټ نه راغلی افغانی انجنیر په یوه مرکه کښی څرگند کړل.

ده وویل : کله چی عراقیانو د کویت له ثروتونو ډك مرکز بی له خنډ او مانع نه اشغال کړ نو تر هر څه وړاندی یی په لوټمار پیل وکړ، د سرو زرو او نورو قیمتی مالونو مغازی یی ماتی او لوټ کړی او بیا یې اور ورته کړ. بانکونه یی تر لوټ وروسته وسوځول، لوړ لوړ قصرونه یی د توپ خولو ته وتړل او رانسکور یی کړل. کورونه یی تلاشی او لوټ کړل او حتی دروانو خلکو له جیبونو نه یی هم پیسی ولوټلی.

ده په کویت کې د عراقیانو د سیاسی اقداماتو په باب څرگنده کړه : عراقیانو له لومړی سره هڅه کوله چی په کویت کښی له کویتیانونه متشکل یو گوډاگی حکومت جوړکړی ، ددی کار له پاره یی د کویټ د یو کال وړاندی د منحل شوی ملی شوای رئیس سعدون حمادی له زندانه راویوست او د حکومت جوړولو وړاندیز یی ورته وکړ، نوموړی چی یو کال وړاندی په دی جرم چی د کویت له امیر نه یې د شوری له لاری دتبلو د عایداتو حساب غوښتی ؤ، بندی شوی او شوری منحل شوی وه، د عراقیانو له نظره یو مساعد سړی بلل کیده. خوده عراقیانو ته په واضح ټکو کی وویل: داسمه ده چی ماله باچا نه حساب غوښتی ؤ څو دا حساب ما دکویټ د اولس د حق په توگه غوښتی ؤ، اوس چی تاسو هم د کویت خاوره نیولی او هم مود کویت داولس په حقوقو خیټه اچولی، څنگه کولای شم چی ستاسو له خوا گوډاگی مشرتوب ته غاړه کښیږدم! ښاغلی حمادی ددی رد ځواب ترویلو وروسته شهید کړای شو. عراقیانو د خپلو دی هلو ځلو په لړ کښی د

له اشغالی کویټ نه راغلی افغانی انجنیر:

کویټ د کینو لاسی گوند مشر خطیب ته په دی نیت چی کمونستان د وطن خرڅولو په کار کی ډیر غښتلی وی مراجعه وکړه او د حکومت جوړولو غوښتنه یی تری وکړه خو حتی هغه‌هم دي وطن فروشۍ ته حاضر نه شو او عراقیانو ته یی وویل:

تاسو د کویت خاوره پریږدئ زه بیا حاضر یم چی په کویټ کی یو دیموکراتیك جمهوریت جوړ کړم!

افغانی انجنیر څرگنده کړه چی : ددی هڅو تر ناکامۍ وروسته د صدام حسین د زوم په مشرۍ له عراق نه یو گوډاگی حکومت کویټ ته راصادر

باقی په(۵) مخ

درکود له روان حالت څخه دعبوري حکومت ایستل ډیر ښه او پرځای قدم دی

په اوسني وخت کی دیو پیاوړي عبوري حکومت موجودیت او داخل ته دهغه انتقال ضروري کار دی

پوښتنه : داسي خبرونه خپاره شوي دي چي دمجاهدينو مشران په دي متفق شوي چي نوي عبوري حکومت جوړ کړي او په دي رابطه يوه عمومي شورا جوړه کړي،تا سي داڅنگه ارزيابي کوئ . ؟

ځواب :

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم

اما بعد :

داخو يو واضح حقيقت دي چي د جهادي مشرانووحدت او د رکود له حالت څخه د موجوده عبوري حکومت وتل ډير ښه او پر ځاي کار دي مونږ او تاسي وينو چي مو جوده عبوري حکومت او جهادي مشران چي په کوم حالت کي واقع د ي هغه دپوره تشويش وړ دي او دا کار دجهاد په ضررتماميږي . په اوسني وخت کي ديو پياوړي عبوري حکومت مو جوديت او دافغانستان داخل ته دهغه ليږ ديدل جهاد ته گټه رسوي . دموجوده عبوري حکومت دجوړيدو پروخت پريکړه شوي وه چي ديو کال په دننه کي بايد داخل ته انتقال شيږ خو له بده مرغه چي دا کارونه شو او دشورا په پريکړو چا عمل ونه کړ. دااوسني عبوري حکومت ديو ي شورا له خوا چي په هغي کي دټولو جهادي تنظيمونو او جهادي قوتونو په شمول زيات شمير علما ؤ ، روحانيونو ،جهادي قومندانانو گډون کړي ؤجوړ شوي ؤ او گه اوس کوم بل عبوري حکومت جوړيږي او که يا هغه پخواني تجديديږي بايد دا کار ديوي سرتاسري شورا له خوا ترسره شي چي په هغي کي دټولو جهادي قوتونو نمايندگان او دافغنستان د موءمن ملت دبيلو بيلو طبقواستازي گډون ولري .ددغه موجوده عبوري حکومت جوړيدو پر وخت يوه‌سهو ه شوي وه او هغه دا چي کله دشورا له خوا عبوري حکومت انتخاب شو شوريٰ سم له لاسه منحل شوه ، خو دا ځل چي کومه شورا حکومت ټاکي بايد چي هغه شوري له منځه ولاړه نشي او ټاکل شوي عبوري حکومت بايد له

دغه شورا څخه داعتماد رايه تر لاسه کړي دغه شورا بايد بشپړ صلاحيت ولري . او تر څو چي هغه عبوري حکومت موجود وي او دانتخاباتو له لياري د بل حکومت دجوړيدو شرايط نه وي برابر شوي ، شورا بايدمنحل نه شي اودحکومت په چوکاټ کي ديو مقتدر ارگان په توگه پاتي شي . خو اوس چي دکوم نوي عبوري حکومت دجوړيدو اوازي خپري ا و خبري اتري پري رواني دي زما په عقيده دا دعبوري حکومت دټاکلو سمه طريقه نه ده اوددي په نتيجه کي چي کوم حکومت مينځته راځي هغه به په تنظيمونو پورې منحصر پاتي

> **که اوس کوم بل عبوري حکومت جوړيږي يا همدا حکومت تجديد کيږي بايد داکار ديوي سرتا سري شورا له خواترسره شي چي په هغي کي دټولو جهادي قوتونو نمايندگان او دافغانستان دټولو طبقو استازي گډون ولري.**

شي . او اوسني عبوري حکومت سره له دي چي ديوي لويي شورا له خوا جوړشوي ځني خلك يي دافغانستان دټول مؤمن ملت نماينده نه گڼي او وايي چي په دي کي ټول جهاد ي قوتونه او دملت نمايندگان برخه نه لري ، نوځکه داعتماد وړ نه دي خو دانوي حکومت به چي دڅو جهادي تنظيمونو له خوا وټاکل شي څنگه به يي څوك ومني ، نوره نړۍبه يي کله په رسميت وپيژني او که چيري داخل ته انتقال شي ټول مجاهدين او جهادي قوماندانان به ورسره کله په کلکه ملاتړوکړي ، نو په دي برخه کي زما غوښتنه داده چي زمونږ جهادي مشران بايد له پوهي ، فکر اوزغم څخه کار واخلي ، غفلت دي نه کوي او که عبوري حکومت جوړوي ديوي داسي قانوني شورا له لاري دي هغه جوړ کړي چي په هغي کي دافغانستان دمسلمان ملت دټولو طبقو استازي برخه ولري ، تر څوچي پخپله مؤمنو افغانانو ته هم د منلو وړ وگرځي او دنړۍ هيوادونه يي هم په رسميت پيژندلو ته چمتوشي.

> *کفري طاقتونه په خليج کي دخپل موجوديت لـه لاري غواړي چي په هغو هيوادونو کـي نظامـي پايگاوي جوړي کړي ، دمسلمانانو مادي اومعنوي شتمني لوټ کړي اسلامي امت وځپي اوله‌ډول ډول بدبختيو سره يي مخامخ کړي.*

پوښتنه : دافغنستان دکشالي دحل په باره کي ستاسي نظر څه دی ؟

ځواب : دافغنستان دکشالي دحل له پاره دير تعبيرونـه شوي او دحل ډيري لاري سنجول شوي دي .. او هر څوك دخپلي خوښي او گټي په نظر کي نيولو سره دحل لاري چاري پيشنهادوي . ددي قضيي اصلي اړخ مجاهدين دي اومجاهدين ددي قضيي اصلي حل دکفر او الحاد پر ضد دوسله وال جهاد ادامه گڼي او داهغه وخت کيداي شي چي مجاهدين په يو واحد صف کي ددين او وطن ددښمنانو مقابله وکړي . ديوي سرتاسري شورا له لاري چي په هغي کي عالمان ، جهادي قوماندانان او دافغنستان دمسلمان ملت دټولو طبقو مؤمن ، باديانتـه او دنظر خاوندان وگړي ـ برخه ولري ، يو اسلامي حکومت انتخاب کړي .

په دي بايد وپوهيږو چي دافغنستان کشاله تش دخبرو له لاري نـه حل کيږي ځکه چي دادعقيدي خبره ده اودلته د اسلام اوکفر مسئله مطرح ده.

مؤمنو افغانانو دکفر اوالحاد پرضد وسله وال جهاد پيل کړي ، ترهغي پوري چي په افغانستان کي دروسانو مزدور اوملحد رژيم موجود وي له روسانو اويا دهغوي دمزدورانو سره خبري کول او يا دامنل چي د سياسي خبرو اترو له لاري دافغانستان قضيه حل کيد اي شي ، دابي ځايه اوبي معني خبره ده ، او لکه دااوس چي ځني مشران روسيې ته دمجاهدينو دهئيت ددعوت کولو تود هر کلي کوي او پرهغي خوښي څرگندوي اودي ته نه گوري چي روسانو له مؤمنو افغانانو سره څه وکړل او لانورڅه شوم هدفونه او اغراض لري، بياهم دروسانو دعوت دځان لپاره وياړ او افتخار گڼي ، که دروسانو له خوا ورته داهم وويل شي چي مونږ له نجيب څخه اقتدار اخلو او تاسو ته يي سپارو ، بياهم داز مونږ لپاره دمنلو وړنه ده او مونږ دا کار دجهاد او اسلامي انقلاب سپکاوي ، او خپل ټول افتخارات دروسانو پښو ته

غورځول بولو . دروسانو سره هغه وخت خبري پکار دي چي په کابل کي له خپل مزدور رژيم سره په تمامه معني مرستي قطع کړي ، دافغانستان په کورينو چارو کي له لاسوهني څخه په بشپړه توگه لاس واخلي اومؤمن افغانان پريږدي چي په افغانستان کي يو اسلامي

> **جهادي مشران که عبوري حکومت جوړوي ديوي داسي قانوني شورا له لاري دي هغه جوړ کړي چي دافغانستان دمجاهد ملت دټولو طبقو استازي پکي برخه ولري.**

حکومت جوړ کړي او بيا روسان دمجاهد ينو هغه حکومت په رسميت و پيژني ، خو داچي تر اوسه دايو کار هم نـه دي شوي دمجاهدينو دعبوري حکومت مشر څنگه دروسانو دعوت نامه قبلوي او دهئيت دورليږلو لپاره چمتوالي ښيي.

زه يو ځل بياهم داخبره تکراروم چي دافغنستان دقضيي دحل يوازينۍ لار دوسله وال جهاد ادامه ده او ترهغه چي دمجاهدينو په لاس اسلامي حکومت نه وي جوړ شوي له وسله وال جهاد څخه لاس اخستل او دمهاجرينو بيرته ستنيدل روسانو اوکفري طاقتونو ته دتسليمۍ معنا لري .

دمؤمنو افغانانو او دروسانو له مزدورانو (خلقيانو او پرچميانو) تر منځ دگډ حکومت جوړول هم امکان نه لري ، په افغنستان کي ديو بي طرف حکومت جوړيدل هم مجاهدين نشي منلي ، ځکه چي په افغانستان کي ددغه اسلامي انقلاب په اوږدو کي هيڅوك بي طرفه نه دي پاتي ، ځني په مستقيم يا غير مستقيمه توگه دروسانو اودهغوي دمزدورانو په خدمت کي واقع شوي او نورټول مؤمن ملت مستقيم او غير مستقيم دمجاهدينو په صف کي ولاړ دی . مجاهدينو دا دومره ، قربانۍ ، له هيوادنه هجرت او ډول-ډول کړا وونه په افغانستان کي ديو اسلامي حکومت دقيام لپاره زغملي دي، نو په افغانستان کي دمجاهدينو له حکومت څخه پرته دبل هيچا حکومت اوقيادت نشي منل کيداي .

پوښتنه : په کابل کي ديوي سپيني کودتا دکيدو آوازي خپري شوي دي او ديو تنظيم له خواچي په دي رابطه يي مخکي هم يو قدم پورته کړي ؤ داسي څر گندوني کيږي چي ډير ژر به ديوي بلي کودتا له لاري دنجيب رژيم نسکور شي تاسي دداسي اقداماتو په اړه څه نظر لرئ ؟

ځواب : ددستوري کودتا وامکانات شته او لکه دمخکني پوښتني په ځواب کی چي مي څر گنده کړه چی دمجاهدينو دعبوري حکومت مشر دروسانو دعوت قبول کړي ، کيداي شي چي په پاي کي کومه دستوري اوفرمايشي کودتا وشي،خو دافغانستان مجاهد ملت خصوصاً جهادي قوماندانانو لپاره هيڅکله دمنلو وړ نه ده داچي بيايو تنظيم دمخه ددغه ډول سپيني کودتا دپيښيدو اعلان کوي کيداي شي چی په دي باب يي له چاسره خبري کړي وي خوزه بياهم داخبره تکراروم چي داډول کود تاوي چي دروسانو په دستوراوفرمايش سرته رسيږي زمونږ

په (٤) مخ کی

د گربزو دقوم مشرانو له الحاج مولانا جلال الدین حقاني سره ملاقات وکړ

میرانشاد:

د خوست د لویی ولسوالی د گربزو د قوم عالمانو سپین ږیرو او مشرانو له محترم الحاج مولوي، جلال الدین حقانی سره وکتل او په خوست کی یی د جهاد د روان حالت په باب له هغه سره خبري وکړي.

له میرانشاه څخه زمونږ خبریال رپوټ راکړ چی د گربزود قوم مشرانو، ددغی کتنی په ترڅ کی چی د سنبلی په شلمه نیټه وشوه محترم الحاج، مولوی جلال‌الدین حقانی‌صاحب ته خپل مشکلات بیان اود ملحدینو پر خلاف د جهاد د بریالیتوب په لاره کی د خپل قوم پوره تیاری‌څرگند کړ. په مقابل کی محترم حقانی صاحب د گربزود، قوم د مشرانو عالمانو سپین ږیرو د اسلامی او جهادی احساساتو اومینی، څخه خوښی څرگنده او هغوی ته لازمی لارښوونی وکړی.

غونډه د اسلام دبریا ـ لیتوب او زمونږ په هیواد کی د یواسلامی حکومت د جوړیدو په دعاپای‌ته ورسیده.

دبغداد رژیم دریځ په مقابل کې دکویت د خلکو وسله وال مقاومت پیل شوېدی

د نړیوالو خبر ځایونودخبر سره سم د کویټ خلکو دعراقی اشغالگرپوځ په مقابل‌کی‌وسله په لاس اخیستی او د لس او شلو تنه یزو ډلو په شکل په بنار کی دننه د عراق په عسکرو برید کوی.

ویل کیږی بنایی ددغو بنارې گریلایانو افراد د پخوانی رژیم د پولیس او پوځی قواو غړی وی چی عصری وسلی، چلولی شی. همدارنگه ویل شوی چی د کویټ خلك دعراقی عسکرو په مقابله کی له ډیرو، عادی وسلو او حتی جارحه الاتو څخه هم کار اخلی.

هغو کسانو چی له کویټ څخه عربستان‌ته رسیدلی دی ویلی په بنارکی‌دننه د شپی له خوا بنه ډیر د ډزو آوازونه اوریدل کیدل او هم د بنار، فضا له لوخړو څخه ډکوه.

اوازې څرگند وني او...

مجاهدینو د ټولو ډلو او مشرانو له گډون او تائید څخه برخمند نه ده.

همدارنگه حضرت صاحب چی له امریکا غږ راډیو سره پخپله مصاحبه کی پدی باره کی وویل چی دني په هره هغه طرحه کی چی حکمتیار یکی برخه ولری گډون نشي کولی. دا ویره پیداکوی چی‌زعامتونه بیا هم د خپلو شخصی مقاصدو او سلیقی ملاحظاتو څخه لاس په سر کیدلی نشي او لا اوس هم چی انقلاب د سختو گواښونو او خطرونو سره مخامخ دي له خپلو ذاتی غوښتنو څخه نشي تیریدلی.

لدی مخکی یو لړ داسی آوازی خپری شوی وی چی مجاهدین د یوه نوی انتقالی حکومت په جوړیدو سلا شویدی په‌دغه حکومت کی به انجینر حکمتیار د دفاع وزیر، مولوی محمد نبی محمدی د حکومت مشر او مجددی صاحب به خارجه وزیر وی او استاد سیاف به د صدراعظم په توگه پاتی شی دغو آوازو هغه وخت لاقوت وموند چی په کابل کی په اصطلاح د یوی سپینی کودتا د کیدو په ارتباط خبرو نه خپاره شول، دغه خبرونه لومړی د پیښور په وحدت پښتو ورځپانه او فرنټیرپوسټ انگلیسی ورځپانه کی، خپاره شول.

حکمتیار صاحب پخپله مرکه کی چی هغه هم وحدت، ورځپانی خپره کړی ویلی دي: روانی خبری به یو لړهغه مشکلات حل کړی چی مجاهدینو ته وړاندې شویدی. خوله جنك ورځپانی سره په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی‌داهم، ویلی چی د پاکستان تر انتخاباتو به مخکی د افغانستان ربړه حل شی.

د مؤقت حکومت یوه منبع د امریکا غږ راډیو ته ویلی دي چی مجددی صاحب هم دغی غونډی ته روان وه‌خو کله چی په لار کی ورته وویل شول چی حکمتیار صاحب هم په غونډه کی دی نوله لاری بیرته را وگرځید.

مولوی صاحب خالص په لومړی غونډه کی حاضروه‌خو د سترگو ناروغی له امله یی په دویمه‌غونډه کی نماینده گډون درلود. لکه مخکی موچی وویل حضرت صاحب‌دامریکا غږ راډیو سره پخپله مرکه کی پدی باره کی ویلی دی: دحکمتیار او نورو تنظیمونو ترمنځ د پخلاتوب او اتفاق په باره کی یو لړ مجلسونه شویدی او ماته هم بلنه راکړل شوی وه مگر مامخکی وویل چی په هغه مجلس کی چی حکمتیار موجود وی زه یکی اشتراك نشم کولی.

خو په حکومت کی د تغییر د آوازو په هکله چی محترم‌محمدی به د دولت مشر وټاکل شی حضرت صاحب زیاته کړه: دغه آوازې ماته هم را رسیدلی خو محمدی ماته وویل‌چی تر اوسه پدی باره کی کوم تصمیم ندی نیول شوی.

پیرصاحب هم پدی رابطه د امریکا غږ له لاری ژوولی څرگندونی وکړی ـ دده په اظهاراتو کی د صراحت داسی، ټکی نه لیدل کیده چی آیا دی له موجوده طرحی سره موافق دی او که مخالف.

پیر صاحب چی په لندن کی دی له امریکا غږ راډیو سره پخپله تیلفونی مرکه کی وویل: زه مریض یم‌اودلته د معایناتو له پاره راغلی یم ـ له پیښو څخه تفصیلی اطلاع نه لرم، ده زیاته کړه: د مجددی صاحب تر مشری‌لاندی حکومت چی په کوم شکل جوړیده له هغی سره هم موږ، موافقه نلرله خو د مجبوریت او ضرورت له مخی مو ورسره موافقه وکړه. او شرط داوه چی تر یوه کاله باید منتخبه شورا جوړه شی چی حکومت یاتائید او یاتغییر کړی. زه داوایم چی حکومت باید انتخابی حکومت وی کابینه یی هم د شورا له خوا منظوره شی او له خلکو د اعتماد رأیه واخلی. ددغو کرښو د لیکلو پر وخت د عبوری حکومت، نشراتی ارگان یوه اعلامیه خپره کړی چی دا ټولی‌آوازی یی رد کړیدی، په علامیه کی راغلی دی: په مطبوعاتو کی

خپاره شوی هغه خبرونه چی گنی د مجاهدینو اسلامی دولت منحل او په ځای یي د یوڅه تغیر د راوستو سره بل دولت رامنځ ته شوی دا ټول یولړ بی اساسه تبلیغات دي.

ابلاغیه وایی: دادولت د ۱۹۸۹ میلادی کال د فبروری په میاشت کی د یوی ستری مشورتی شورا له خوا جوړشوی، ځکه خو د دولت د رئیس برطرفه کیدل، تبدیلول او یا انحلال د نورو له صلاحیت نه لوړ دی.

خوداهم د یادولو ده چی په اعلامیه کی د اسلامی دولت یادونه شویده او دا اعلامیه هم چی د مجددی‌صاحب له خوا خپره شوی د عبوری حکومت یادونه یکی نده شوی بلکی دا ټینگار یواځی د اسلامی دولت په رابطه شوی، چی دی چپله د هغه صدر دی.

په اعلامیو کی معمولا" الفاظوته زیات اهمیت ورکول‌کیږی اوردهمدغو الفاظو له مخی پری حساب کیږی‌لدی سره د هیواد شمالی سیمو ته د مجددی صاحب د سفر خبرونه هم خپاره شویدی ویل کیږی چی مجددی صاحب به له احمد شاه مسعود سره په روانو حالاتو خبری کوی خو، کتونکی دا عقیده څرگندوی چی مجددی صاحب په کوشش،

پاتې په (۵) مخ

درکود له روان حالت څخه دعبوري حکومت ایستل...

دمجاهد ملت له پاره دمنلو وړ نه دي.

داخو ټولو ته معلومه ده چي اوس دروسانو دمزدور رژیم په اردو کي داسي مسلمان پوځیان نشته چي واقعاً دخپلي اسلامي جذبي له مخي په داسي یو اقدام لاس پوري کړي چي هغه دافغانستان دمسلمان اومجاهد ملت په گټه وي. فعلاً داردو زیاتره صاحب منصبان او افراد دکمونست گوند غړي دي او کمونستان هیڅ وخت دمسلمانانو دخیر او گټي لپاره کارنه کوي، اوس نوکه داردو له خواکود تایي اقدام کیږي هغه به دروسانو په دستور اومشوره وي اوترشابه یي دروسانو بي شمیره شوم اغراض او اهداف پراته وي. په دي طمع کیناستل او له جهاد څخه لاس اخستل هم داسلامي انقلاب او جهاد سره جفا ده.

پوښتنه: ستاسي په نظر دمجاهدینو داتحاد لپاره لنډه مؤثره او بریالۍ طریقه کومه ده؟

ځواب: زما په نظر دمجاهدینو داتحاد لپاره تر ټولو ښه موثره طریقه دا ده چي دمجاهدینو داوو جهادي تنظیمونو مشران او همدارنگه نورجهادي قوتونه ټول دزړه له کومي اتحاد وکړي او په بشپړ توافق سره له خپل منځ څخه یو مشروټاکي او بیاټول پر هغه راټول شي، اطاعت یي وکړي، اسلامي حکومت جوړ کړي او دپوره انصاف له مخي دشرعي احکامو مطابق ټولي چاري دهغوي اهل ته وسپاري.

بله طریقه دا ده چي ټول علما، جهادي قوماندانان، داسلامي پوهي او بصیرت خاوندان هغه افغانان چي په داخل او یا بهر کي دي سره راټول شي یوه شورا جوړکړي او دهغي له لاري داسلامي حکومت لپاره قیادت وټاکي او دهغه تر مشرۍ لاندي اسلامي حکومت جوړ او بیا افغانستان ته انتقال شي دجهادي چارو اداره اوقومانده هم په لاس کي ونیسي او دروسانو دمزدور رژیم دنسکوریدو څخه وروسته دقدرت واگي تر لاسه کړي. خوداټول کارونه هغه وخت کیداي شي چي مجاهدین پخپل مینځ کي متحد او دشرق اوغرب دډول ډول توطیو اودسیسومخه ونیسي.

پوښتنه: دخلیج د کشالي اودهغي د حل په رابطه تاسي څه نظر لرئ؟

ځواب:

د خلیج دموضوع داسې حل چي په هغي کی په عامه توگه د ټولو مسلمانانواوپه‌خاصه توگه د هغي سیمي د خلکوخیروي دادي چي عراقي پوځونه چي مستقیما یي دکویت پرخاوره تیري کړي، هغه هیواد یي نیولي، د خلکو شتمنۍ یي لوټ کړي او کویت یي د خپل هیواد یوه برخه اعلان کړي باید چي خپل پوځونه بي له قید او شرطه له هغي خاوري څخه وباسي، خو که عراق دا کارنه کوي او خپل بي شرمانه تیري ته همداسي په سپین سترگۍ سره دوام ورکوي نو دټو لي نړۍ پرمسلمانانو لازمه ده چي له اسلامي خاوري څخه ددفاع له پاره راپورته شي او پر اسلامي خاوره دظالمانو دتجاوزاو زور زیاتي مخ‌ـ نیوي وکړي، خو داسي نه ده چي له اسلامي خاوري څخه ددفاع له پاره کفري او طاغوتي طاقتونه (امریکا، انگلستان، فرانسه، او...) راوبلل شي، ځکه داکاربه سیمه او نړۍ کي داسلامي امت دکرکي او نفرت احساس را پاروي او دمسلمانانو ترمنځ به داختلافاتو سبب وگرځي، استعما ري او طاغوتي کفري طاقتونو ته داسلامي هیوادونو په کورنیو چارو کي دلاسوهني زمینه برابروي. کفري طاقتونه خو غواړي چي په دغه ډول پلمو په اسلامي هیوادونو کي نظامي پایگاوي جوړي کړي او په بیلو بیلو طریقو د مسلمانانو مادي او معنوي شتمنۍ لوټ کړي، اسلامي امت وځپي او د ډول ډول خواریو او بد بختیو سره یي مخامخ کړي.

بحران خلیج فارس زنگ خطر برای امت اسلامی

عبدالله خرم

هنوز زخم های مردم عراق که در جنگ بیرحمانهٔ هشت ساله آن کشور با ایران برداشته بودند التیام نیافته بودکه باز تیغ زهرآلود صدام حسین در هوا چرخیده بر گردن مسلمانان بیگناه فرودآمد. صدام که گمان برده در عصر چنگیزخان زندگی مینماید کشور کوچك و همسایه خود را، مورد حمله و تجاوز قرار داد در آنجا به قتل وغارت پرداخت و چار روزبعد انضمام کشورکویت را به عراق اعلام نمود علاوه بر این آن ۱۲۰ افسری را که از حمله بر کویت امتناع ورزیده بودند اعدام نمود. به همین سلسله عربستان سعودی که از پیشروی برق آسای عراق وخطر بالقوه نظامی انکه از جانب عراق متوجه آن کشور است سخت در تشویش و اضطراب، قرار گرفت لذا ملك فهد طی بیانیه ای خطاب بمردم کشورش خواهان کومك نظامی ممالك دوستش گردید که درین جمله ایالات متحده و انگلستان نیز شامل بودند.

حالاکه تعداد قابل ملاحظه عساکر امریکا و متحدینش با مدرن ترین اسلحه در عربستان سعودی اجتماع نموده اندوباین، تعدادروز بروز اضافه میگردد، واز جانب مسئولین امور نظامی امریکا اظهارات عجیب وغریب، شنیده میشود چنین مینماید که وضع بشکل مرموزی به طرف پیچیدگی های نووایجادمشکلات جدید در تغییر است.

امریکا و دیگرممالك عربی آنقدر اسلحه به منطقه فرستادند و میفرستند که برای چندین بار میتوان با آن صدام را نابود کرد این تراکم عسکر واسلحه، در منطقه و در پهلوی آن اظهارات وزیر دفاع امریکا که گفت: "عساکر ما برای چندین سال درینجا خواهندماند" این فکر راتقویه می بخشد که غربیها و قوت های ضد اسلامی درنظر دارند تااز موقعی ساسی که صدام برایشان فراهم نموده، حد اکثر استفاده نمایند.

تجاوزعراق بر کویت که بیشترین ضرر را نصیب ممالك عربی و جامعه اسلامی و بیشترین منفعت رانصیب امریکاوهم پیمانش نموده دست آویز خوبی شد برای استعمارگران تابه اهداف دیرینه شان دست یابند.

شرق میانه علاوه براینکه ذخایر نفت و ثروت جهان است درقلب خود بناهای تاریخی و مقدس ادیان آسمانی را نیز دارد. مرکز تجمع مسلمانان جهان درین مقطع از زمان که تحریك های اسلامی در سراسری جهان اوج گرفته والهامی که مبارزین ازین اجتماع و تماسهامی گیرند برای استعمار جهانی واقعا "مایهٔ تشویش است. از جانب دیگر، اینك مسلمانان از سرمایه وثروت عظیمی که خداوند (ج) نصیبشان نموده است تاحدی درراه تقویت حرکت های اسلامی کار میگیرند کومك مالی و اقتصادی عربستان سعودی و کویت به حرکت های اسلامی در افغانستان، فلپین، ریاست های تحت اشغال روسها در آسیای میانه، کشمیر ... به شکل روزافزون باعث تقویه آزادیخواهان مسلمان میشد و همچنان اعمار مساجد وانتشار کتب اسلامی و قرآن عظیم الشان در خود ممالك غربی، باعث ایجاد حلقات منظم مسلمانان مقیم آن ممالك و رو آوردن روز افزون باشندگان امریکا و اروپا ی غربی به اسلام میگردید که استعمار جهانی از آن بیمناك است. واین امر طبیعی است که استعمار جهانی جهت تداوم بخشیدن سلطه وبقای عمرخویش دست بکار شود.

حمله عراق بر کویت و در نتیجه مساعدشدن زمینه برای، دخالت نظامی امریکا درمنطقه زمانی صورت گرفته که تضاد منافع ایالات متحده و مسلمانان وکومك کشورهای ثروتمندعربی با حرکت های اسلامی درسراسر جهان به شکل فزاینده چهره نمایی میکرد این امر اشتباه را بوجود میاورد که شاید عراق به اشارهٔ ایالات متحده دست به این اقدام زده باشد تاامریکابهانهٔ تجاوزبرخلیج فارس رابدست آورد. به هرصورت ـ انتظار هرنوع دسیسه و توطئه از جانب دشمنان اسلام بر ضد اسلام و کشورهای اسلامی امریست طبیعی اما چیزیکه درین جریان غیر طبیعی مینماید همانا ضعف، نظامی ممالك اسلامی بخصوص ممالك منطقه است. اسلام بر اساس اصول فطری خود به مسلمانان امرمی نماید تاازقوت برخوردار بوده و دایم قادر به دفاع از حریم عقیده وایمان تاریخ وجغرافیه خویش باشند و، وسایل جنگی خویش را خود تهیه نموده وامادهٔ باش باشد باتأسف می بینم که کویت در ظرف چند ساعت اشغال شد و عربستان سعودی جائیکه حرمین شریفین وجوددارندتوانایی اینرانداردتااز سرحدات خود دفاع نماید و برای دفاع، از خود مجبور میشود امداد نظامی ایالات متحده راقبول نماید. اگرعساکر غربی وقع را غنیمت شمرده و از ترك گفتن خاك عربستان سعودی اباورزند معلوم است که چه فاجعه ای دامنگیرعالم اسلام خواهدشد. وچه بدبختی هایی عالم اسلام را فراخواهد گرفت، پس این زمانیست که مسلمانان جهان بخوداماده متوجه شوندکه پهلوی داشتن منطق قوی، سلاح قوی، نیز لازم است.

دیگر باید لکهٔ ننگی راکه خواب آلودگی وعطالت مابر دامن اسلام عزیز زده پاك کرد، دیگر باید مطابق ارشادات پیامبر اسلام درایجاد جامعهٔ قوی وبالاهیبت اسلامی کوشید تادل دشمنان اسلام با دیدن عزت و عظمت و قوت آن به لرزه اید انانیکه میگویند زمان اسلحه گذشته سخت دراشتباه اند به این یاوه سرای نباید گوش داد، تقلیل اسلحه وتوافقات مربوط آن بین شوروی و امریکا نه تنها ضرورت مارا به قوه و اسلحه کم نمی نماید بلکه به ضرورت آن می افزاید.

شوروی راکت ها ییراکه باان غرب را نشان گرفته بود از اروپا ی شرقی برمیدارد اما با عجله آنرابه هندوستان میفروشد تاکشمیر وپاکستان را هدف قرار دهد واین درس بزرگی است، برای مسلمانان سراسرجهان.

دخوست دهوائی...

د ملحد رژیم د سیاسی دفتر غړی غلام غوث ناصر په مشرقي غونډه جوړه شوی وه چې د راکټونو په وروړلو سره غونډه د تیت او پرک شوه او دغونډې یو شمیر غړی سخت ټپي شول.

***

عراقی یرغلگرو د کویت...

شو خو له دی حکومت سره هم نه کویتي مامورینو او نه په کویت کی استوگنو خارجي مستخدمینو مرسته وکړه او دفترونه تړلی پاتي شول، د صادر شوی حکومت تر ناکامۍ وروسته عراقیانو د عراق له خاوری سره د کویت د انضمام اعلان وکړ او هغه هیواد یی چی بی رحمانه لوټ کړی اووران کړی ؤ خپله خاوره وبلله. نوموړی په کویت کی د افغاني استوگنو شمیره د شل زرو تنو شااوخوا وگڼله او څرگنده یی کړه چی افغاني اوسیدونکی هم د کویت له خپلو استوگنو سره یو ځای د عربستان خاوری ته راو اوښتل او دالړی لاروانه ده. ده وویل چی د کویت خپل اوسیدونکی تر دوو ملیونو لږ او «اجنبیان» د دری ملیونو په شا اوخوا کی وو.

نوموړی په پای کی د عراقي بعثیانو وحشت په افغانستان کښی دروسی یرغلگرو له وحشت سره ورته وباله او ویی ویل چی عراقي بعثیانو د روسی وحشیانو له چینی څخه او به څښلی دی.

اوازی ـ څرگندونی او...

وکړی چی په نوی طرحه کی د حکمتیار د گډون پرضد د قومندان مسعودپلوی ځلب کړی.

په دیسی جوخت داسی خبرونه خپاره شول چی د مجاهدینو هغه مشران چی په نویو خبروکی یی برخه لرله په یوه گډه سفر سعودی عربستان ته تللی دی.

په داسی حالاتو کی ولس څنگه مطئن کیدلی شي ـ هغوی هر ماښام بی‌بی‌سی راډیوته غوږ نیولی ناست او خپله خبره د خپل وطن جریان او د خپل جهاد او انقلاب د حالاتو په رابطه ددښمن له خولی د اطلاعاتو انتظار کوی څو دیوه نوی او مثبت انکشاف زیری واوری‌خوبیا هم له‌داسی حالاتو او خبرونو سره مخامخ کیږی چی د دوی اندیښنی لاپسی زیاتوی او لاد نویو کړکیچونوغمازی ورته کوی.

په دی رابطه ترټولو حقیقت ته نژدی نظر او پیشنهادهغه دی چی الحاج مولوی جلال‌الدین حقانی د ورستیو تاوجنبو، حالاتو او جریاناتو په اړه د خبریال د یوی پوښتنی په ځواب کی څرگند کړیدی:

((طبیعي ده چی د رکود له روان حالت څخه د عبوری، حکومت ایستل ډیر ښه او په ځای قدم دی په اوسنی وخت کی د یوه پیاوړی عبوری حکومت موجودیت او د هیواد داخل ته د هغی انتقال ډیر ضروری کار دی خو دا کار باید یوی باصلاحیته قانونی مرجع له لاری بنه ونیسی ترڅو حکومت د گوندونو په منځ کی‌منحصر پاتی نشی او د ټول ولس په سطحه خپل موجودیت ثابت کړی)).

په ریښتیاهم هر تغیر چی راوستل کیږی هغه باید د ولس د حقیقی نمایندگانو چی علماء، قومندانان او نور مخور کسان دی د مشوری او تصمیم له مخی پلی شي‌په‌دی صورت کی طبیعی ده چی هغه حرکت خپل مزل ته په بریالیتوب سرته‌وام ورکولی شي، خو داهم واقعیت دی چی ولس یوه بدلون او تغیر ته ستړگی په لاره دی خو دا تغیر باید داسی نه وی چی بیا هم پری موږتجدید نظر ته اړتیا ولرو.

نور باید له تیرو ترخو تجربو عبرت واخلو او تکراریی نه کړو ـ وخت او فرصت په ډیره چټکتیا زموږ له لاسه وځی. هسی نه چی لدی زیات د سیاسی کشمکشونو او د گوندونو او گوندیو تر منځ لالهانداو سرگردان ملت له نفسیاتی او نویو سرگردانیو سره مخامخ کړو.

موږ په‌داسی حال کی چی د اتحادپه لارکی د هرقدم او هر حرکت هرکلی او تائید کوو هیله او دعاکوو چی موجوده منځ ته راغلی رکود د یوه ریښتینی، موثر اوهر اړخیزاتحادله لاری په یوه خوځنده فعال او مثبت حرکت بدل کړی شي.

پر خوست اوگردیز دمجاهدینو بر یالی عملیات دوام لری

دخوست پر هوائی ډگر دوه بارورونکی الوتکی ویجاړی شوی

گردیزکی دوه هلیکوپترونه راوغورځول شول

خوست دسنبلی ۱۷:

له خوست څخه په رارسیدلو خبرونو کي ویل شوی دی چې د الحاج مولاناجلال الدین حقانی تر قیادت لاندی د سلمان فارسی دغنډ مجاهدینو د سنبلی د میاشتی ۱۶– نیټه د خوست پر هوایی ډگر د توغندیو پوسیله د مزدور رژیم دوه الوتکی ویجاړ کړي.

خبر زیاتوی چې وروسته دمزدور رژیم نور و الو تکو د تور غر د اوبري شاوخوا سیمی بمباری کړی خو مجاهدینو ته کوم ځانی او مالي زیان نه دی ا وښتی.

دیوبل خبر له مخی د سنبلی د میاشتی په لسمه او یوولسمه نیټه په گردیز کی د حاجی نیک محمد او حاجی رحیم په، په مشری مجاهدینو د بهرام خان او ابراهیم خیلو پر پوستوعملیات وکړل. د عملیاتو په لومړی ورځ مجاهدینو دښمن یوه هلیکوپتر الوتکه چې بمباری یی کوله د توغندی په وسیله وویشتله او د سرویې په غرد کی ولویده. د عملیاتو په دوهمه ورځ ددښمن یوټانک د، ماین د چاودنی له امله ویجاړ شو. په دغه ورځ ددښمن الوتکو سخته بمباری وکړه. خبروایي چې، په دغه ورځ مجاهدینوددښمن یو هلیکوپتر، د هوایی ضدتوغندي په ذریعه وویشت چې د خواجه حسن کلاد تیلو د ذخیری په خوا کی ولویده.

د یوبل خبر له مخی د گردیز او خوست په شاوخوا سیمو کی ددښمن په پوځي تأسیساتو، او پوستو د مجاهدینو عملیات روان دی او، دگردیز او خوست هوایی ډگرونه د مجاهدینو تر کلکی محاصری لاندی دی او الوتکی د پراشوت، په ذریعه اکمالات غورځوی.

دروسیې په یوې اتومي بټۍ کې سخته چاودنه وشوه

باخبرو خبری سرچینو رپوټ ورکړ چې د چهارشنبی په ورځ د روسیی د تیلو په تولیدونکی اتومی مرکز کی سخته چاودنه وشوه چې د هغی له امله په مرکز کی د اورلمبی پورته شوی او په ټول ښار باندی لوگیو پرده وغوړوله.

د روسیی خبری اژانس"تاس" ویلی: په دی چاودنه کی څوك وژل شوی نه دی خو د ځینو کسانو د ټپي کیدوخبر را رسیدلی.

تاس زیاته کړی!دا چاودنه د" مینو گورسك "ښار د "یلیتکی" مرکز کی وشوه پدی مرکز کی د اتومی مرکزونو پاکوونکی مواد، جوړیدل.

په خوست کې په ...

دکابل رژیم دملیشی ټولی پوستی له سخه وړي دي.

شلتایز لیکی: مجاهدینو د خوست په شاوخوا کی داسی سنگرونه نیولی دي چې دخوست هوایی ډگر او قشله په راکټونو راسا "ویشتلی شی.

شلتایزلیکی: چی مالد حقانی صاحب څخه یوښتنه وکړه چی ولی مجاهدین خوست نه نیسی؟حقانی صاحب په ځواب کی وویل: دخوست سول فقط، دیوي ورځې خبر د د د حواصلی ستونزه دادد چی مجاهدین خوبحوست فتحه کړي خوبیا به پر خوست دکابل رژیم دسکاډ توغندیو او لوړي ارتفاع، دالوتکو د بمباری مخه څوك نیسی پداسی حال کی چي په مجاهدینو د مرستي لړۍ بنده کړې شویده.

رابوت شلتایز د خپل رپوټ په پای کی لیکی: پداسی حال کی‌چی مجاهدینو او قومندانانو یی ډیری، ستری قربانۍ ورکړیدی خو د پیښور مشرانو یی ډیری لوی سهوی، کړی – د کابل رژیم د دوی لدغو سهو څخه خورا زیاته استفاده کړیده.

شلتایز زیاتوی که مجاهدین داډول بشارونه ونیسی نو د کابل رژیم د سکاډ او نورو راکټونو او هوایي قواو – مدافعه ورته ډیره گرانه خبره دداصلی خبره دادد چی د مجاهدینودمشرانو د بی اتفاقی له امله به نجیب په کابل کی ناست وی او هیواد به هرد ورځ د تباهی کندی ته ورکوزیږی.

شلتایز لیکی :له پکتیا نه نیولی تر پکتیکا، زابل او غزنی پوری ټولی علاقی د مجاهدینو په لاس کی دی خو پدغو سیمو کی ډیر ستر خطر هغه ماینونه دی چی روسانو او د کابل رژیم فرش کړی دی.

دتحریك انصار المسلمین...

پنځه کسیزه هیأت سره وکتل او د علاقی او موضوعکانو په باره کی‌یی خبری وکړی.زمونږ خبریال لیکی چی ددغی کتنی په ترڅ کی چی د سنبلی د میاشتی په ۱۹ نیټه وشود داکتر عجازالحق محترم حقانی ته د هغه د ورور د شهادت او والده بی بی د وفات له، امله د انصارالمسلمین دتحریك د رئیس داکتر احسان‌صاحب، د تسلیت پیام وړاندی کړ.

وروسته دواړوخواو د افغان مجاهدینو او کشمیری ولس د جهاد ستونزو په اړوند خبری وکړی.

په پای کی‌مولوی جلال‌الدین حقانی د تحریك انصار– المسلین هیأت ته د خپل ملاتړ او همکاری داډ ورکړ.

په روسیه کې پوځ ...

پاځون ترټولو اهمه وجه‌هغو، پوځیانو ته د دندی او کورونو نه پیداکول دی کوم چی د ختیځی اروپا څخه راستانه شوی، داخبار د وینا سره سم که پدی‌برخه کی مسئولو مقاماتو او په اهمو پوځی او تولیدی مرکزونو کی د کمپیو ټرانو څخه نظر وغوښتل شی هغوی به ددی ستونزی د حل لپارد د پوځی انقلاب وړاندیز وکړی او بس.

در اسیای میانه برای نشتین باریك...

تعقیب آن به تربیه نسل جدید با روحید اسلامی بپردازیم.

تشکیل حزب جدید در شهر نمنکان در ۱۴۰ میلی‌شرق‌تاشکند، مرکز ازبکستان اعلام‌گردید.

استاد ربانی از سفر لیبیا بر گشت

معمر القذافي علیه جنبش اخوان المسلمین در سراسر جهان مبارزه اعلان کرد

استاد برهان الدین ربانی امیرجمعیت اسلامی افغانستان و وزیر اعمارمجدد حکومت مؤقت اسلامی افغانستان بعد از یك سفر دوستانه به لیبیا بتاریخ شش سنبله به پیشاور عودت نمود.

خبر شایع یافته در زمینه حاکیست که استاد موصوف در جریان سفر خویش به لیبیا، با معمرالقذافی رئیس جمهور و شخصیت های اسلامی آنکشور ملاقات و پیرامون مسائل جهاد افغانستان و سایر مسائل مورد علاقه صحبت نمودند.

بدنبال سفرموصوف طبق یك، خبر رادیو صدای المان ازلیبیا معمر القذافی رهبر لیبیا از مسلمانان خواسته است تا علیه جنبش اخوان المسلمین و دسته های مربوط به آن با تمام نیرو در سراسر جهان مبارزه نمایند.

اطلاعیه

لجنة الدعوة الاسلامیة وجمعیت هلال احمر کویت درپشاور

طوریکه دیده‌میشودبعضی ا ز روزنامه ها ورسانه های مطبوعاتی جهان وممالك عربی بعد از تهاجم نامردانه ووحشت آورقوای عراقی برکویت پروپاگندی رابراه انداختند که مؤسسات تعاونی کویت مسدود گردیده ومؤظفین آنهاامادگی برگشت رادارند.

بایدگفت که مابحیث مسؤلین این مؤسسات به صراحت اعلان میداریم که اینوع نشرات پروپاگند میان تهی بوده واقعیت نداردمؤسسات خیریه کویت کمافی‌السابق به امورخودادامه داده وبه معاونت خداوند (ج) به پیش میرود.

په مسکو کی وچه ډوډۍ نه پیداکیږي

مسکودسنبلی ۱۵:

په مسکو کی د وچې ډوډۍ دنه پیداینبت له کبله خلك ورځ په ورځ د اقتصاد د خرابیدو سره مخامخ‌کیږی

د نړیوالو خبری منابعو د رپوټ، له مخی د تیری دوشنبی په ورځ د مسکو په ټول ښار کی د ډوډۍ د دکانونو مخی ته د خلکو کتارونه لیدل کیدل، پداسی حال کی چې دوکانونه تش پراته وو.

نجیب ته دمرستی ...

په خبرونو کی ویل شویدی چې د روس د فیدریشن مشر ترټولوزیات نجیب ته د مرستی له دوام سره مخالفت څرگند کړیدی.ده زیاته کړی پداسی حال کی چی روسان چپله له سختو اقتصادی مشکلاتو سره مخامخ دی د نجیب له رژیم سره د مرستی دوام د روسي وگړو سره سخت، ظلم او جفا گڼل کیږی د مرستي د – زیاتوالی په رابطه چې ډاکتر نجیب کوم پیشنهاد وړاندی کړی و، پرهغي د بحث او خبرو پر وخت د فیدریشن مشر زیاته کړه:د نجیب له رژیم سره مرسته له یوی مخی د روس ملت په تاوان ده ځکه چې د روس لښکرو تیری د یوی تاریخی غلطي په توگه منل شوی نوداسی یوه غلطي ربړنده یود رژیم سره‌مرسته، هیڅ جواز نلری.

په هیواداونړۍ کې

فیض آبادسنبلی ۱۷

د کابل رژیم د ملیشاو(۱۲۰) کسیزه ډله چی د بدخشان ولایت د یفتل په (لاي‌بای) – سیمه کی پرته ود له خپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شویده.

د میدیا اژانس رپوټ ورکړی چی ددغی ډلی قوماندان له پخوا نه د مجاهدینو سره په تماس کی‌وو.

قلعه نو دسنبلی ۱۷:

د کابل رژیم د پوځ له، قواو څخه شپږسود (۶۰۰)تنه، له خپلو کورنیو سره دبادغیس د ولایت په مرکز قلعه نو کی زروو مجاهدینو ته تسلیم شول.

د مجاهدینو یومنبع ددغه خبر په ترڅ کی ویلی چی د غوکسانو چی د سنبلی په (۱۲) تسلیم شوی شپږسوم(۶۰۰) کلاشنکوفونه، شل نوری سپکی وسلی او یو اندازه مهمات له ځانه سره راوړیدي.

هلسنگی –۱۸سنبلیه:

جورج بوش و گرباچف روسای جمهور امریکاوشوروی در هلسنگی مرکز فنلند بعد از چندین‌ساعت‌مذاکره پیرامون بحران، خلیج در یك کنفرانس خبری اشتراك نموده متفقا" خواستار خروج عراق از کویت شدند.

جورج بوش رئیس جمهورامریکا طی این کنفرانس گفت:رهبران هردو ابرقدرت در مورد بحران خلیج هم نظربوده وعراق باید قوای خود را از کویت خارج نماید.

وی علاوه کرد :قوای‌امریکا تاهنگامی در شرقمیانه باقی، خواهد ماند که مطمئن شود قطعنامه ملل متحد در زمینه عملی میشود.

همچنان گرباچوف رئیس‌جمهور روسیه در کنفرانس خبری مذکور– گفت : اگر عراق از کویت خارجند، شود روسیه با اقدامات نظامی موافقه خواهد کرد.

موصوف از کومك های اقتصادی امریکا به شوروی استقبال نموده گفت بااین همه نمیتوان باابن، امید بود که بادالر شورویراخرید گرباچف مذاکرات هلسنگی را بسیار امیدوار کننده توصیف نمود.

تجارب ثابت ساخته است که معمولا" بعد از ملاقات سران ابر قدرتها مشکلات جدیدی دریکی‌از نقاط جهان تبارز نموده است.این بار نیز باید دید که ملاقات بگفته آنها موفقانه شان،چه مصائب جدید به کدام منطقه جهان به ارمغان می آورد.

شبرغان د سنبلی ۱۷:

د جوزجان ولایت د سرپل په ولسوالی کی مجاهدینودملحد– رژیم د قواو څلور پوستي‌نیولی دي.

د میدیا د خبررسولودآژانس د خبر سره سم پنځوس عسکر چی پدغو پوستو کی وه له خپلو وسلو سره مجاهدینو ته، تسلیم شویدی.

د هیئت تحریر تر نظر لاندي:

جلوونکی: ننگیال

مرستیال: هاشمی

مکاتباتی پته:

پرست بکس‌نمبر (۱۰۳۳)

یونیورستي ټاؤن پیښور